# تاسو د 18 کلن څخه کم یاست
# او تاسو ځان په خطر کې احساسوئ؟



Caritas France Secours Catholique · forum réfugiés · France Terre d'Asile · CONTRE LA TRAITE DES ÊTRES HUMAINS · CROIX-ROUGE FRANÇAISE · unicef FRANCE · OIM ONU MIGRATION · UNHCR · OFII · GOUVERNEMENT

# په فرانسه کې ټول ماشومان خوندي دي، د تاوتریخوالي او استحصال په وړاندې



که تاسو  فکر کوئ **چې تاسو په خطر کې یاست، یا په تاسو څوک په زور هغه کارونه کوي کوم چې تاسو نه کول غواړئ**، یعني هغه کارونه کوم چې تاسو نارامه کوي یا کوم چې منع دي،

که تاسو یاست ګواښ کړل شوی یاست، یا پر تاسو برید شوې وي.



او یا **کوم کس یا کومه ډله** تاسو په کار کول، په سوال کولو، په غلا کولو، یا په جرم کولو، په جنسي اړیکو ساتلو، په پور ورکولو، او یا په نشه کولو **مجبوروي**.



یا که تاسو **د مور او پلار یا سرپرست پرته** په فرانسه کې یاست



**د یو مسلکي سره په دې اړه خبرې وکړئ:**
یعني پولیس افسرانو سره، اتحادیو، ښوونکو، ډاکټرانو، روزونکو، ټولنیزو کارکونکو، وکیلانو، او یا قاضیانو سره ...

دا د دوی دنده ده **چې ستاسو ساتنه** وکړي.
تاسو حق لرئ چې **مرسته** ترلاسه کړئ او د **هغو خلکو څخه لرې اوسئ چې تاسو ته زیان رسول غواړي.** که تاسو په یو غیرقانوني کار مجبور کړای شوې یاست، نو تاسو په دغه کار سزا نشي درکړل کیدای.

تاسو کولی شئ د پولیس او ژاندارمې سره په تلیفوني شمیره 17 **(فرانسوي)** اړیکه ونیسئ.
تاسو هم کولی شئ چې تلیفوني شمیرې **119** ته په زنګ وهولو سره د **«هلو ماشومتوب په خطر کې»** سره اړیکه ونیسئ (24/24 ساعته وړیا او بې نومه تلیفون، په فرانسوي ژبه کې او ترجمانۍ سره)



# که تاسو د 18 څخه کم عمر لرئ، او که تاسو پرته له خپل مور او پلار یا بې سرپرسته په فرانسه کې یاست




فرانسې ته د رارسیدو سره سم، تاسو حق لرئ چې **د دولت لخوا خوندي شئ**، او لږ تر لږه تر 18 کلنۍ پورې تاسو ته وړیا استوګنه درکړل شي او ملاتړ اور ملتیا درسره وشي. دې ته **په ماشومتوب کې ټولنیز کمک** ویل کیږي.

**د ماشومانو قاضي او روزونکي به ستاسو ملاتړ ته حاضر وي.** دوی به تاسو سره په ګډه او ستاسو د عمر سره سم پریکړه کوي، که چیرې تاسو په یو ډله ایز کور، اپارټمان، یا فامیلي استوګنځای کې استوګن شوی یاست ...



**یو نارینه یا ښځینه ډاکټر ستاسو درملنه کولی شئ.**

**ښوونځی وړیا دی، او له هر ځای څخه راغلي ټولو ماشومانو لپاره خلاص وي.** تاسو له خپلې کچې سره سم فرانسوي ژبه زده کولې شئ، تاسو د خپل عمر له نورو ځوانانو سره ښوونځي ته تللې شئ، مګر د خپلې خوښې مسلکي زده کړه هم کولې شئ. په فرانسه کې، **قانوني کاري عمر 16 دی.**



**د يو ماشوم په توګه تاسو په فرانسه کې د پاتې کېدو لپاره اسنادو او کاغذونو ته اړتیا نلرئ.** ستاسو د اړتیاوو او ستاسو د وضعیت مطابق، مسلکیان تاسو سره ستاسو په کړنلارو کې مرسته او ملاتړ کولی شي.



**که تاسو د خپلې کورنۍ غړي له لاسه ورکړي وي، نو فرانسوي سور صلیب کولی شي تاسو سره د دوی په موندلو کې مرسته وکړي، او اړیکه ورسره ونیسي اور بیا له تاسو سره یو ځای شي.**

**د سره صلیب سره په دغه تلیفوني شمېره 60 12 43 44 1(0)33+ اړیکه ونیسئ**

**یا د ایمیل له لارې په دغه ادرس : recherches@croix-rouge.fr**

# که تاسو د مور او پلار پرته یاست مګر د خپلې کورنۍ له غړو سره یاست

(یعني وروڼه او خویندې، نیا او نیکه، ترور یا مامي، تره یا ماما، د تره یا ترور زامن) یا له خپلوان سري ئاست:

**دا مهمه ده چې تاسو له مسلکیانو سره اړیکه ونیسئ ترڅو تاسو سره مرسته وشي: پولیس افسران، اتحادیې، ښوونکي، ډاکټران، روزونکي، ټولنیز کارکونکي، وکیلان، قاضیان ...**

که دوي ستاسو فکر کوي، نو بیا ستاسو د کورنۍ غړي کولی شي مالتړ ترلاسه کړي.

# هغه کومې نښې دي چې تاسو باید خبردار کړي؟

**ښځه وي، که سړی وي، یا که یو بل ځوان وي، که چیرې یو کس د دغه لاندې کارونو هڅه کوي نو تاسو باید چې ورته هوښیار اوسئ:**

- ستاسو کاغذونه یا د هویت اسناد ترلاسه کول (له چارواکو پرته).
- ستاسو عکسونه یا ویډیوګانې ترلاسه کول.
- ستاسو تلیفون، کمپیوټر یا د اړیکو نورې وسیلې ترلاسه کول.
- تاسو له خپلې کورنۍ یا خپلوانو څخه جلا کول.
- تاسو ته داسې ژمنې درکول چې تاسو ته د باور وړ نه ښکاري یا تاسو ته مبالغه ښکاري.
- د پیسو په بدل کې تاسو سره د مرستې یا ملاتړ (ترانسپورت، خواړه، او داسې نور) ژمنه کول.
- له تاسو کار اخیستل خو تاسو ته پیسې نه درکول یا تاسو په خراب کاري حالت کې ساتل.



## د ځان خوندي ساتلو په اړه ځینې مشورې:

**خپل شخصي معلومات او د هویت اسناد خوندي کړئ:**



• ستاسو شخصي معلومات او د هویت اسناد حساس شیان دي او باید چې تل په خوندي او پټ ځایونو کې وستال شي.

• د خپلو معلوماتو او اسنادو عکسونه واخلئ، په یو ایمیل ادرس یې واستوئ، او یا فوتوکاپي یې وکړئ، دا کولی شي د ورکیدو په صورت کې ستاسو په کار راشي.

• یوازې رسمي چارواکو ته یې ورکوئ، کله چې هغوي له تاسو څخه وغواړي.




• ناوړه خلک کولی شي هڅه وکړي په ټولنیزو شبکو کې له تاسو سره باوري اړیکې جوړې کړي ترڅو ستاسو او ستاسو له وضعیته ناوړه ګټه پورته کړي.

هیڅکله خپل شخصي معلومات په ټولنیزو شبکو مه شریکوئ او یا په بې تصدیقه ویب پاڼو کې له اجنبیانو لخوا هیڅ وړاندیز مه منئ. په فرانسه کې، د چارواکو رسمي ویب پاڼې په „gouv.fr.“ ټکو سره ختمیږي.

**له خپلو خپلوانو سره اړیکه ساتئ :**

• له خپلې کورنۍ، خپلوانو او عزیزانو او ملګرو سره په اړیکه کې اوسئ. هغوی سره د خپلو ستونزو په اړه خبرې وکړئ.

• که ممکن وي، نو له هغو خلکو سره سفر کوئ چې تاسو یې پیژنئ او باور پرې لرئ.

• له خپلې کورنۍ یا عزیزانو څخه جلا کیدل مه منئ.

• خپل تلیفون له ځانه سره ساتئ. د هغه چا د تلیفون شمیره یاد ساتئ چې تاسو





پرې باور لرئ او په یو پاسورډ موافق یاست چې تاسو یې کارولی شئ که چیرې تاسو په خطر کې یاست او په آزاده توګه خبرې نشئ کولی.

**یوازې د هغو مسلکیانو مرسته منئ څوک چې یو ځانګړی نښه لکه واسکټ یا کارت لري.**



- د هغو سازمانونو او اتحاديو رسمي نومونه او رسمي معلومات غوښتنه وکړئ چې تاسو سره مرسته کوي.

- که تاسو د يو چا موټر ته ختلو ته اړتيا لرئ، نو تاسو بايد د موټر د نمبر پليټ عکس واخلئ او هغه چا ته يې واستوئ چې تاسو پرې باور لرئ. ښه به دا وي چې په عامه ترانسپورت کې سفر وکړئ.



- که تاسو د رسمي استوګنځيو چينلونو څخه بهر د يو چا سره اوسيږئ، د دغه کس د معلوماتو کتلوغوښتنه وکړئ (پيژندنه او پته) او يو مسلکي ته ووایاست.

# له چا سره اړیکه ونیسئ
# کله چې تاسو کوچنی یاست؟

هغه سازمانونه کوچنیانو ته په مستقیم
ډول د مرستو وړاندیز کوي.

| | |
|---|---|
| **«Ensemble contre la traite des êtres humains»**<br>**ډله ایز «د انساني قاچاق پروړاندې په ګډه مبارزه»** | دا یوه شبکه ده چې د بشري حقونو د انکار د ټولو ډولونو پروړاندې د لا اغیزمنې مبارزې لپاره رامینځته شوې. په 2007 کې د Secours catholique لخوا رامینځته شوی، دا 28 فرانسوي اتحادیې سره یوځای کوي، په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د قربانیانو سره ښکیل دي. |
| **کاتولیک کمک**<br>**Caritas France** | د اوریدلو، هرکلي، او لارښوونې وړاندیز کوي او<br>د خطر سره مخ خلکو او د انساني قاچاق قربانیانو ملاتړ کوي. |
| **Croix-Rouge française**<br>**فرانسوي سره صلیب** | له خطر سره مخ خلکو او د انساني قاچاق قربانیانو ته معلومات ورکول او لارښوونه کول. |
| **Hors la Rue**<br>**له سړکه بهر** | د استثمار په حالت کې د یوازې بهرنیو کوچنیانو ملاتړ کول. |
| **Ecpat France - mission Calais** | د یوازې ماشومانو او د قاچاق قربانیانو ټولنیز او قانوني ملاتړ کول. |
| **Agir Contre la Prostitution des Enfants (ACPE)**<br>**د ماشومانو د فحشا پر وړاندې مبارزه (ACPE)** | د هغو کوچنیانو لپاره مالتړ وړاندیز کوي چې د جنسي استحصال قربانیان دي او د دوی شاوخوا خلک (رواني - تعلیمي، قانوني ملاتړ) |
| **L'amicale du Nid (AdN)**<br>**د Nid دوستانه (AdN)** | په فحشا کې د کوچنیانو لپاره د نړیوال همکارۍ وړاندیز کوي. |
| **ALTHEA - L'Appart** | د فحاشۍ له خطر مخ کوچنیانو استقبال، اوریدل، لارښوونه، او د همکاري کول. |

## 119 Allô Enfance en Danger
## هلو ماشومتوب په خطر کې

| | | |
|---|---|---|
| د استحصال تېول ډولونه | 106 rue du Bac, 75007 Paris<br>06 71 00 69 90<br>contre.la.traiteesecours-catholigue.org<br>www.contrelatraite.org | Paris<br>ملي وړتيا |
| د استحصال تېول ډولونه | 106, rue du Bac, 75007 Paris<br>06 71 00 69 90<br>genevieve.colas@secours-catholique.org<br>www.secours-catholique.org | Paris<br>ملي وړتيا |
| د استحصال تېول ډولونه | ستر دفتر: 21 rue de la Vanne, 92100 Montrouge<br>49 72 96 81 07<br>estelle.kieferecroix-rouge.fr<br>www.croix-rouge.fr | Paris<br>ملي وړتيا |
| د استحصال تېول ډولونه | 70, rue Douy Delcupe, 93100 Montreuil<br>01 41 58 14 65 ; contactehorslarue.org<br>www.horslarue.org | Paris |
| د استحصال تېول ډولونه | +33 7 53 57 05 34<br>له دوشنبې تر جمې، له سهار 10 تر ماښام 5 بجو<br>(واټس اپ، ژبې: عربی، تیګرینیا، انګلیي، فرانسوي)<br>AGatoux@ecpat-france.org | Calais |
| جنسي استحصال | 14 rue Mondétour, 75001 Paris<br>01 40 26 91 51; contacteacpe-asso.org<br>acpe-asso.org | Paris |
| جنسي استحصال | ستر دفتر: 21 rue Château d'Eau, 75 010 Paris<br>01 44 52 56 43 ; contacteadn-asso.org<br>د تاسیساتو ادرسونه شتون لري په:<br>Amicaledunid.org /présentation/#établissement<br>وقف شوي سرچينې سايټ: jenesuispasavendre.org | Ile-de-France,<br>Marseille,<br>Toulouse, Rennes,<br>Montpellier, Lyon |
| جنسي استحصال | 8, rue du Vieux Temple, 38000 Grenoble<br>04 76 43 14 06 ; contactealthea38.org<br>https://althea38.org/ | Grenoble |

**له خطر سره مخ ماشومانو لپاره د مرستې ملي تليفوني لاين، وړيا او بې نومه (د ورځې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې، په نږدې 185 ژبو کې ژباړه)، په allo119.gouv.fr کې آنلاين خبرې اترې.**

